شريف الله دوست سرواني ۲۰۱۲/۰۶/۱۵

# پښتانه پهلوانان په اریاناکي

(غرغښت یاګرشاسپ بابا)
برخه (له ننه ۳۰۰۰__۳۵۰۰کاله پخوا)

غښتلي پښتون ټبر په آسیاکي د خپل زړورتیا، غښتلتوب، پهلوانۍ،هوښیارۍ، ځیرکتیا او پروطن مینتوب سره نوم لري خو په څنګ کي يې ورسره په تاریخ کي زښت ډیر میرځمنان(دښمنان) هم درلودلي دي د بیلګي په توګه ۸۰۰_ ق. م)پیړۍ شاوخواکي د دجلي اوفرات څخه راوړاسوي اثوریان چي هلمند، بست، ارغنداب سیند سره او آریانا یوشمېر برخي يي رانیولي اود پښتنوسره يي سختي جګړي وکړي خوواکمنۍ يي دوام ونه کړه همداډول (۴-۵ق.م) کي د پارس هخامنشیان دهندموریایان، یونانیان،ساسانیان،عربان، چګیزیان، تیموریانو ازبکان، مغلان، صفویان، انګریزان، روسان او امریکایان ټول په خپل وار د پښتون نسل وژني او د دوي د اصل اونسب ورکولوکي شومي مخي کارولي کرغیڼي کړني يي کړي دي حتی مغلو او انګریزانو خو د خپلي واکمني پرمهال په خپلوکرغېړنو مخوسره ډیري هڅي وکړې ترڅو د پښتنو اصل ورک او دوي يو بي کلتوره او ديو څو محدو دوويړيوغرني بې تمدنه وګړي وښيي، چي په دي ترڅ کي کله چا ديهودوسره تړلي کله دچا او کله د چاسره خوزموږ دشلمي پيړي دهيوادتکړه او پوهانو عالمانو د دښمن بيهوده او د دښمن په جعلي تاريخونه او په تاريخ کي شخصي لاسوهني رسوا او کره کړې او دايې وښودل چي پښتانه دنړۍ يوډيرغښتلي دخپل وخت شتمن ادبي، اخلاقي، په بشري ارزښتونو پوه او په خپل وار ډېر لرغوني او د متمدن ژوند په چاروپوه ټبردي او که په لنډو کي د پښتون ټبرتاريخي مخينه ته نظر وکوو له کومي ورځي چي بشردځمکي پرکره پښه ايښې پښتون هم دهغي ورځي تاريخ ته رسيږي افسوس چي په دې ورستيوپيړيو کي همدا دوخت غښتلی پښتون دنورو
چالاکه سياست پوهانو له لوري د سيمو په منځ کي دسياسي لومو ښکار دی چي ددې لومو څخه ځان خلاصول ملت ويښووني ته اړتيا لري.

موږ هم پخپل وار دملي مسؤوليت په منلو سره زموږ دهيواد اوسيمي په لرغوني تاريخ کي د آريانا (=باختر=خراسان-افغانستان)د(پيشداديانو)دکهاله يونامتوکړو، پهلوان او غښتلي پښتون شخصيت ګرشاسپ (=غرغښت بابا) د ژوند حال راړو چي ترډيره يې ژوند اوژواک دهلمند په لرغوني او متمدنه حوزه پوري تړلي دي هغه کروړ او نړي پهلوان (=ګرشاسپ بابا يا غرغښت د پښتنوله درې ګونو نيکه ګانوله ډلي څخه دي لکه اتريت، اترط، اترت،(=بيټني يا بيټ نيکه )سرند(سړبني ياسړبن نيکه اوهمداډول ګرشاسپ(=غرغښت نيکه)په دوي کي يې دورستي هغه دژوند ياد سپړو.

دګرشاسپ بابا(=نسب):

دګرشاسپ(=غرغښت)دپښتونتوب په اړه مدلل معلومات به لږوروسته راسي، غرغښت بابا دشام ياسام(=تيري تا=اترت، اترط=بيټني)، زوي، دي ددي پښت لړي تر دريم پښت پوري ؛ تورکه، شيدسپ، تور، پوري جمشيدپاچاته رسيږي.(۱)[1] د ګرشاسپ بابادنسب په ورکولوکي پښتون ضدعناصرو ډيرهڅي کړي دي ياخويې په پوره بې پامۍ سره ددې سترشخصيت او پښتون نيکه په هکله قلم چلولي دی. همداډول ګرشاسپ (=سام) غرغښت، نريمان، نرميش، نييرمنو، نيرم، غرښاسپ، ساما،غرشاسپ)په نومونوباندي يادسوي دی چي ويي پيژندونکود(غښتي ياکفچه آس )په نوم يادکړي.غرغښت بابا چي په پورتنيونومنو يادسوي دي داترت ياثريت (بيټني)زوي دزال بابا پلار اودرستم پهلوان نيکه او دسور آب (=سهراب)ورنيکه دي نوموړی دآريانا دلرغوني حوزې هيتومنت (=هلمند = غور اوزنداور)له نامتواو مشهورغښتلو پهلوانانو څخه ؤچي په ورستي کي به دې ټولو پوښتنوته منلي ځوابونه وړاندي سي دغرغښت بابا يوبل ستاينوم (نرمئينو)دي چي په دري-پاړسي تاريخ او ادبياتوکي په (نريمان)اوښتي غرغښت(=ګرشاسپ بابا)په اويستا(=دزرتښت

[1] په اوستاکی، نريمان او ګرشاسپ ټول نومونه او لقبونه ديومتن دی دګرشاسپ(=غرغښت بابا)

(۱)استاداحمدعلی کهزاد، غرغښت ياګرشاسپ، دانش خپرندويه ټولنه، دريم چاپ،۱۳۸۸.ش، مخ ۹.(۲)استاد احمدعلی کهزاد، دافغانستان لرغونی تاريخ، او دتاريخ انجمن ځانګه.


افغان جرمن آنلاين تاسو په درنښت همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليږلو مخکې په ځير و لولئ

مذهبي کتاب)کي د(کرساسپه)په نوم يادسوي دي اوهمدانوم بيا په هندي متونو په ځانګړې توګه مهابهاراته کي (کرساسوه) راغلي دي د اويستاد(زاميادشت )له يادابښتونوڅرګنديزي چي دغرغښت بابا نسب لړي پښتون پاچاه يما(=جم،جمشيد)ته رسيږي. اودشاهي فراوتاج درې ځله دده پرسرايښودل سوي دی ؛  يو ځل منوچيتره(=منوچهر)، يوځل فريدون اويوځل غرغښت بابا(=ګرشاسپ)ته رسيدلی دی.

(رام يشت)او(آبان يشت)چي په خپل ترتيب کي دپاچاهانونوملړراوړی دتريتونا(=فريدون )څخه وروسته کرساسپه(=غرغښت بابا ) پاچهي ته  رسيدلی دی،ګرشاسپ (=غرغښت) ښکلي، کلک، کروړ، زړوراوغښتلي ځوان ؤچي دآريانا د دښمنانو په له منځه وړولوکي يې ډيري هڅي او سربښندني کړي دي، دنوموړي د فعاليتونوله ډګرڅخه يو هم دهلمنددلرغوني حوزه ترهامونه چي سيستان هم ترخپل پوښښ لاندي راولي.ارغنداب،

ګندهارا اوهندوکش دسويل برخي وي اويستا(زمايشت)د نوموړي پهلواني اوکارنامي يوه يوه انځورکړې ده(۲)

دده له مهمولاس ته راوړونوڅخه يوهم دده دوروردقاتل (ګنداريوا)وژل دي.

چي دا ويستا دا بان يشت (۳۷)فقره کي يې يادونه سوې ده هغه چي له (هيتاسپه۳)دهغه دورور (ايورواک شايا) د قاتل نه يي واخيست اوهغه يي وواژه مړي يي په خپل ګاډي پوري وتاړه.

دغرغښت بابا ځاي:

غرغښت ياګرسپ ډيرشميرتاريخپوهانو دوروکشا(۴)ددرياچي په ذريعه چي دهلمند سيند يي ورڅخه مرادديدسيستان(هلمند)له پهلوانانوڅخه بولي، فرانسوي پوه ډارمستټر ګرشاسپ(نئري مانو کرساسپو) يعني (ګرشاسپ نريمان)دکابل دداستانوپهلوان بللي دي.(۵)زماپه اندګرشاسپ(غرغښت نيکه) دهلمند دلرغوني سيمي داور(=زنداور، زميندا‌ور)وه لکه يوځاي چي اسدي حط سي کابلشاه په ماته کي وايي: وانسوچوازشهو(داور*)سپاهسوي جنګ برد(اترط)کينه خواهدلته بي مقصد د داوردښارڅخه اوسني زنداوردي. لکه اسدي طوسي داځاي(*)زنداور =زميندا‌ور= داور، بلادداور=جبل الزور=سوماګير) دزابل مرزبللي دي اواترت (بيټ نيکه)له همدي ځايه دکابل دجګړي په نيت را ولاړسوی دي منهاج السراج جوزجاني سام نريمان (ګرشاسپ=غرغښت بابا)اووروريي سور؟ د(غور=زينداور + غور) دغرنيو سيموبولي اوفريدون له اولادي څخه يي بولي په زنداور کي دسورپه نامه يوغرهم سته (۱)اوهم داډول دسروان کلاپه مينځني نقطه کي هم يوکلي دسوراو(=سوريانو)په نوم سته .وګوري دهلمند تاريخي جغرافيه.)[2]

دغرغښت بابا بهرني جګړې:

اروابښاد استاد کهزاد دګرشاسپ بابا غرغښت او پښتونتوب يي په خپله عالمانه اوتحقيقانه ليکونوکي په پوره رښتني لايلوپه ثبوت رسولي.

(۶)!ګرشاسپ (=غرغښت داترط(=اترت، اتريت ياشيخ بيټني دي چي لړي په څوپښته جمشيد ته رسيږي،غرغښت بابا په ډير وغزګانوکي دخپل پلارسره ؤلکه هنديان، چينايان او توران(=ترکان او داوسني ايران ديوشمړ برخو وګړي، د نوموړي ځايونواوسيدونکي يي خپل تابع ګرځلي وه په ځينوجګړوکي به پلار اوزوي  د اميرپولاد بابا اوامير کروړبابا په څېر اوږه پراوږه وه چي پلار او زوي دواړه دپاچهی مقام ته رسيدلي دي(۷)

دګرشاسپ(=غرغښت بابا)آبادي په هلمندکي!

غرغښت بابا دهلمندپه کښتني برخه اوسني نيمروز زرنج کښي زښتي ډيري آبادی وکړې د دې آباديو لپاره يي دهند او روم څخه يې مهندسان راوستل فريکي کار يې دکابل په وګړو وکړ. دغرغښت بابا د معماريواو ابادیو يادونه دتاريخ سيستان نا څرګند ليکوال له ننه شاوخوا زرکاله وړاندي داسي کوي: ژباړه: مادسيستان ابادول دګرشاسپ په لاس چي داثرت (اترت،اطرط)، بن شهر بن کورنګ بن بيداسپ (شيداسپ)، بن تور بن جمشيد الملک بن نونجهان(۸) = نوجهان)، بن اينجد بن اوشهنګ بن فراوک بن سيامک بن موسي (۹)بن کيومرث اودسيستان جوړول هغه ورځ

---

[2](۱)پوهاند علامه عبدالشکوررشاد بابا، جغرافيايي يادابښتونه علامه رشاداکاډايی، ۱۳۹۸، مخ ۳۵۰.
(۲)استاد علی احمد کهزاد، دافغانستان لرغونی تاريخ، انجمن څانګه ۱۳۳۴، لمړی ټوک، مخ ۰۲۸۱.

(۳)______hit asp
(۴)______vouraksha(هملند سيند)

(۵)د افغا نستان مخکی اثر ،مخ ۲۸۲.
(*)زنداور(زميندا‌ور=ارض داور=بلادداور=جبل الزور=سوماګير)دزابل مرزبللی دی اواترت (بيټ نيکه)له همدی ځای دکابل دجګړی په نيت راولا ړسوی دی.

---


افغان جرمن آنلاين په درښت تاسو همکاری ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

وه چي گرشاسپ دنړي پوهان راټول کړل (۱۰)گرشاسپ(غرغښت بابا)په خپله ويناکي وايي: کله چي مرستي لپاره دا(فغانستان=اريانا)ختيځ ته ولاړ په بيرته راګرځيدوکي وايي چي دهيتومنت,هيرمند(هلمند)سيندپه غاړه(لښکرګاه)کي ښا ر جوړوم(۱۱)
غرغښت باباپه ټول هلمند تر زرنج پوري ددي سيمي ساتونکي ؤ[3]. غرښت بابا دجهان پهلوان په څير بيله شکه ګرشاسپ (=غرغښت پښتون)داويستاله افسانوي پهلوانانوڅخه دي اودشلمي پيړۍ دپوهانوله څيړنوڅخه له ورايه څرګنديږي چي له ننه(۳۰۰۰-۳۵۰۰)کاله پخونوموړي پښتون پاچاه ؤ.
غرغښت بابا داويستاپه (پشتونو)کي يادسوي داډول په پهلوي اثارواوهم دنوموړي يادونه داسلامي دوري په کتابونوکي سوي لکه ابوالمويدبلخي، دتاريخ سيستان ليکوال، اسد طوسي، دگرشاسپ نامي په نوم نظم کړي ده اوداسي نور......
غرغښت بابا اوروستم پهلوان دارياناپه داستاني تاريخ کي دنړۍ پهلوانان پيژندل سوي دنوموړي دپهلواني اوازه ترهند، چين، روم, ترکي اواوسني ايران پوري اوحتي تريوشميرافريقايي هيوادونو پوري رسيدلي وه. که په لنډه وواېوغرغښت د(پښتنو)دداستاني پهلوانانوڅخه شميرل کيږي چي دلومړي ځل لپاره داويستاپه (پشتونو)اوپه (بنداهش) کي يادسوي دي چي دوخت زمانه يي داچي دزرتشت ملګري بلل سوي دي (۳۰۰۰)کاله له نن څخه پخواشميرل کيږي (۱۲)
چون گرشاسپ يال ي يلي برفراشت
سرنيزه ازچرخ گردون گذاشت
چه ازنوجوانان چي مردکهن
زگرشاسپ بودي سراسرسخن
بران پورش بفروزکام
نسرندازميان سران سپا
گران مايه راکردگرشاسپ نام
کجاجاي داردبدين رزمگاه

[4](۱۳)حکيم اسدي طوسي وايي چي ګرشاسپ باباترڅوژوندي ؤ چانه کۍ غوزار.
نور هم سته...

پای

[3](۶)وگوری گرشاسپ یا غرښت داستادکهزادلیکنه، لومړی چاپ ۱۳۵۷.
(۷)همدا اثر، دریم چاپ ۱۳۸۸.ش،مخ ۶۳.
[۸]ملک الشعراء بهار، دتاریخ سیستان په لمنلیک کی کاږی، اصل یی نونجهان دی وروسته توږل سوی سراوړی ((جمشید بن ویجهان بن اینکهد بن اوشهنگ بن افراواک بن سیامک بن میشی.))ابوجعفر قدامه(ویوزجهان)لکلی دی،ابن خردادبه لیدن چاپ، مخ ۲۳۴)نوبجهان اویوانهااونورډولونه یی هم لیدل سوی دی. په اویستاکی (ویونگهوت)راغلی په وروستی کی (ویونگهان)چی معرب یی (ویونجهان)دی سم روایت دی (.بهار)
[۹]دتاریخ سیستان لیکوال، بموسی نوم غلط راوړی، اصل یی (میشی)دی
[۱۰]تاریخ سیستان، لیکوال ناڅرگند،(۴۴۵)هجری شاوخوا،مخ۳.
[۱۱]کهزاد،غرغښت یاگرشاسپ،۴۲مخ.
(۱۲)کهزاد،غرښت یا گرشاسپ مخکنی اثر،۴۸مخ؟
(۱۳)گرشاسپ نامه،حکیم اسدی طوسی.


افغان جرمن آنلاين په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ